Kandahar. Kabul
Vol.3, No.4, Sartan 1341
(June 1962)

کندهار



احمد شاهی واټ کی د کندهار د مرستون د ودانیو دریمه برخه

کاکل

تەرا مور دی د ختن دملك هوسۍ دە چی د مشکو بوی دی درومی لە کاکلو
«خوشال خټك»

د هغو غوټیو شونډی موسکی مه شه
چی بې ګل وی رقیب نجتی پر کاکلو
«رشاد»

د کاکل د اعتکاف و بېشلمی تە کاندی غسل پەتودو اوښکو هر شام شم
«بریالی»

د بنګړو شرنګ وای، آواز د چنګ وای
خاطر وای جمع، پرېشان کاکل وای
«ریدی»

ګوره تېر ویستې ظاهر د سرو ګلونو خساره دی سراسر وکړه کاکله
«شفیق»

چی پرمخ کاکل پرېشان کړی هغه تە ئې
چی خوړلی تور ښامار یم هغه زه یم
«خواجه»

تور دی اوربل تور دی کاکل عاشقان ټول کی ارمان
ښه لونګین دی پرسینه پرسر دی شال ایښیدی
«عبدالرحمان»

تور دی کاکل پرتندی خپور سو عجب زېب کوی دا
صبرو آرام را څخه یوړ ستا چشمان دلبره
«ملاعبدالسلام دکرز»

یا ستا سیاه کاکل دی یا بوی د مشکو تېزه
یا ستا زغ د بلبل دی یا د طوطیانو رېزه
«محمدعیسی»

تور کاکل او ښایستې ملالی سترګی
سیال ئې نسته نن په ټوله هندوبار کی
«ویران»

LIBRARY OF
ISLAMABAD OF
29 MAR 2005
6 CONTINUATION E

کندهار

میاشتنی چپرونه

ادبی . تاریخی . اجتماعی . علمی

مسئول چلونکی:

ا،م «کرزی»

اداره: د شهیدانو واټ

د دولتی مطبعی څنګ ته

د ۱۳۴۱ لمریز کال د [سرطان] میاشت
د ۱۹۶۲ میلادی کال د [جولایی] «
د دریم کال څلورمه ګڼه
پرله پسې ګڼه [۲۸]

کالنی «بیه»
په کندهار کښې [۲۸] افغانۍ
په دننه مملکت کښې [۳۲] «
په دباندنیو هیوادو کې یوډالر

ددې ګڼې مضامین

خوشبختی څه شی ده ؟	په [۱] مخ کی
په پښتو ادب کی کتنی او څېړنی	« [۳] « «
نیمروز	« [۱۰] « «
راز سېدلی لیك	« [۱۱] « «
د پاڼینو په ځواب کی	« [۱۳] « «
خوشالی او حواشینی	« [۱۵] « «
[د زړه ډېوه]	« [۱۷] « «
[د پر دېسا نوږغ]	« [۸] « «
[وړې قطرې]	« [۱۹] « «
[پر ویل د رحمت الله په تصدیق وکړی]	« [۲۰] « «
[شمع ویل]	« [۲۱] « «
د سانسکریت د ژبی لغات په پښتو....	« [۲۲] « «
ښاغلی عبدالرحیم «هاتف»	« [۲۳] « «
نواب محسن الملك یعقوب علیخان بامېزی	« [۲۶] « «

خوشبختی څه شی ده؟

د پیدایښت له لومړۍ ورځی څخه بیا تراوسه پوری ټول انسانان په دې فکر اخته دی چی خوشبختۍ ته لار پیدا کړی، تل د سعادت دوسایلو دراغونډولو دپاره پرله پسې کوښښ او زیار باسی لیکن ښکاره نه سو چی سعادت څه شی دی؟

ښائی راتلونکی نسلونه دی هم د خوشبختۍ د پیدا کېدو دپاره د فکر نیلیان وځغلوی او څه دی په لاس ور نه شی.

تراوسه پوری د نړۍ ټول فیلسوفان، حکیمان شاعران، مخترعین او پوهان د خوشبختۍ په شاؤخوا کی ږغېدلی او بېله دې چی د خوشبختۍ مسلمه نتیجه لاس ته راولی له دنیا څخه تللی دی.

څوك خوشبختی په ثروت او بډائی کی بولی ځینی شهرت او نوم درلودلو ته خوشبختی وائی څوك دا خوشبختی بولی چی جاه او مقام ته ورسیږی او پر نورو حکم وچلوی، ځینی د شهوتونو او نفسی خواهشاتو و آرامولو ته خوشبختی وائی.

د فکر او استدلال څښتنانو په دې موضوع کی څه ژور تحقیقات وکړل او د بشر په نفسیاتو کی څه په غور وږغېدل؛ تر ډېرو څېړنو او پلټنو وروسته ئې د بشر خوشبختی په لاندی شیونو کی وبلله چی پر هغو باندی هم په یوه اتفاق پاته نشول.

د یونان ځینو فلاسفه ؤ خوشبختی په علم کی دننه وبلله او ځینو اخلاقی فضیلت خوشبختی وګڼله ځینی د مادی خوندو حاصلېدو ته ولاړل او ځینو د نفسی خواهشاتو پرېښوول او د نیوی چاری ترك وهل سعادت وباله؛ د مشائینو د ډلی مشر او د لېسی استاد ثروت، اخلاقی فضیلت، ښایست، د مزاج اعتدال او د کورنۍ نجابت د خوشبختی ارکان وبلل؛ هرچا هر څه وویل خو تراوسه د خوشبختۍ غوټه خلاصه نه سوه.

پوه نه سولو چی د څه دپاره و دنیا ته راځو، د ژوند هدف او غایه څه شی ده، خوشبختی چیری ده او اخلاقی فضیلتونه کوم دی؟ هر څه چی پر موږ مجهول وه هغه ته مو په خپل خیال کی یوه لار پیدا کړله او علم مو وباله بیا هم حقیقت ته و نه رسېدلو، که چیری حقیقت ته رسېدلی وای نو بیا به دومره اختلافونه؛ شخړی، ظلمونه او بدبختی نه وای او بشریت به د خوږې ورور ګلوی، پاکی مینی او عدالت په غېږ کی ارام پروت وای، او د خپلو فطری نوامیسو سره سم بې د ژوند کاروان مخ د تکامل پر خوا روان وای نه به بادار او غلام وای، نه به سرمایه داری او مزدور وای، نه به اشرافیت او خواری وای، نه به د فکری او اخلاقی فضیلت خبره منځ ته راتله، هر څه به د ټولو وای، اساسی خبره دا ده چی موږ انسانان څرنګه چی ښائی تراوسه نه دی پېژندلی او نه به دا معرفت د بشر د کورنۍ په نصیب سی ځکه هیڅ شی پر خپل ذات او ماهیت باندی علم نلری

او نه دعلم مدارك پېژندلای سی .

کله چی انسان په سترګو څه ولیدل او یا ئې محسوس کړل نو ددې محسوساتو او مشاهداتو په اساس د دماغ په حجرو کی یو تصور پیدا شی کله چی دا تصور مرتب او منظم شی نو هلته دی دعلم نوم پر کښېږدی او دا فکری فضیلت وبولی تصور په خپل ذات او ماهیت کی ډېره یوه خلاقه ماده ده چی په یوه آن کی هر څه جوړولای سی او ژر ئې بیرته ړنګولای سی کله انسان د پادشاهۍ پر تخت کښېنوی او کله ئې د دوهې ملنګ کړی .

په اندېښنو می ځان پاچا کی
سرمی راپورته کی ملنګ د دوهې ومه

زموږ ډېر علمونه د تصوراتو محصول او ډېر اعمال مو د تصوراتو مخلوق او ډېری آرزوګانی مو د تصوراتو مولود دی، کله چی انسان د خپلو تصوراتو سره ملګری شی نو هم رنګین باغونه جوړوی او هم ښایستې مانۍ دهری حقیقی آرزو څخه چی د واقعیت په جهان کی محروم سی هلته ئې د ځان د پاره سازوی لکه کوچنوتی هلك چی د سیند پر غاړه کله د شګو ودانۍ جوړوی او بیا ئې ژرورانوی، انسان کله چی د تصور په دنیا کی ښه شیونه غوره کړل نو هغه بیا د واقعیت په دنیا کی هم غواړی او که چیری لاس ته ورنشی نو ځان بدبخته او د خوشبختۍ څخه محروم بولی .

شاعران چی د تصور د دنیا صالح زامن او پیاوړی مبلغین دی هر کله ئې د خپلی دنیا د ښایست او ښکلا تبلیغ کړی او خپل خیالی تصورات ئې په رنګینو الفاظو کی د جهان وخلګو ته وړاندی کړیدی چی د دوی د آثارو مطالعه هم تر ښه ځایه بشر بدبخته کړی او د سمی لاری څخه ئې کوږ کړی دی .

انسان طبعاً د زلمیتوب په لومړیو وختو کی د شعر او شاعری سره مینه پیدا کوی او د شعر په ځنو کی د تصورو آسمان ته خیژی او له دې دنیا څخه خیالی آرزوګانی له ځانه سره په ارمغان راوړی چی د ژوندانه ترورو ستیو شیبو پوری هغه پلټی او د پیدا کېدلو په لار کی ئې سرګردانه او پریشانه وی .

که موږ د تصوراتو له دنیا څخه را کښته سو او د شعر او شاعری رنګین او خوازه الفاظ او مفاهیم له خپله دماغه و باسو محیطی تلقینات پرېږدو او د واقعیت په جهان کی څرنګه چی یو څه فکر وکړو بیا به نو انسانی سعادت څه شی وبولو، دلته بیا خبره تکراروم چی د هر چا بیا جلا فکر او نظریه ده خو زما په فکر او منطق سره دا څو شیونه نسبتاً د بشر سعادت بشپړ کولای سی لکه اقتصادی مساوات، اخلاقی فضیلت، اجتماعی عدالت، خو تر هر څه د مخه د بشری سعادت د رسېدو د پاره اقتصادی مساوات ډېر ضرور او خورا لازمی شی دی، تر څو چی په جهان کی د دې مهم عنصر ارکان بشپړ تعمیم نه سی نه انسان من حیث الفرد، نه بشری ټولنی د سعادت مخه لیدلای سی .

ځکه سعادت او د زړه ډاډ تر ټولو د مخه د مادی شیونو په تکمیل کی پروت دی کله چی مادی وسایل د ټولو انسانانو د ګټې په محل کی مساویانه شانته واقع نه سی او د جامعې د افرادو له منځه افراط او تفریط لیری نه سی تر هغو نه

« نور د پشتی په دریم مخ کی »

زموږ ژبه

ښاغلی عبدالحی حبیبی

په پښتو ادب کی کتنی او څېړنی

خوشحال خان د ایډیلزم او ریلزم پر پیچومی
آیا د خوشحالخان هنر د هنر له پاره وو که د ژوند لپاره ؟

د آیډیلزم یعنی اصالت تصور او خیالیت ریښې د انسانانو په شاعری کی ډیری قدیمی دی، هر کله چی انسان له خورا قدیمو زمانو څخه د فطرت په جذباتو او ولولو کی د خپلو پټو میلاناتو ترجمانی د شعر په ژبه وکړله . هغو اشعارو غیر مادی او روحانی او د عالم بالا څخه یو منبع درلود، او شاعر د هغه غیر مشاهد او خیالی عالم استاځی ګڼل کېدی .

د یونان قدیم اساطیر وائی چی آمفیون د جوپیتر زوی. هغه میټالوژیک شاعر او سندرغاړی ؤ، چی د تب دښار په ودانولو کی به ئې په ښه زغ او سحر-ناکو نارو، خپل ارغنون واهه، او دې سندرو به داسی اثر درلود، چی کاڼی به چاودل، او شاعر ته به ئې راځغستل، او ده به د کلا په جوړولو کی کارول د جوپیتر له لوڼو څخه یوه [موس یا-میوز] د شعر الهه وه، چی شاعرانو به د هغې د جلال او جمال له لوړه عرشه الهام اخیست .

د شعر د خیالی روایاتو دغه لوړه افسانه ډېره پخوانی ده، خو پدې نژدو پېړیو کی امانویل کانټ د جرمنی مشهور فیلسوف او محقق، د آیډیلزم او خیالی شاعری مکتب په مرتب ډول ویرانست . دی وائی چی هنر او آرټ پخپله مطلوب او بالذات مقصود دی نه د کوم بل غایت لپاره دا هغه نظریه ده چی آرټ د آرټ لپاره بولی، او هغه په یوه مجرد او غیر مادی دینامیکیزم پوری مربوط ګڼی، او وائی چی د دنیا انسانان خو په نژاد او جنس او وینه او مذهب او مشرب کی سره مختلف دی، مګر د دوی په شعر او آرټ ئې یو ډول وحدت او د معانیو تجانس او د افکارو هارمونی شته، او دا خبره ثابتوی چی د انسانی آرټ منبع یوه آسمانی او روحانی مشترکه او واحده سرچینه ده، زموږ شرقی مفکران او شعرا هم آرټ لره د جمال یو عالی او آسمانی غیبی منبع منی، او مخصوصاً صوفیان خو بل څه نه وینی او نه ئې منی .

[شیللر] د جرمنی یو آیډلسټ شاعر دی؛ دی د آرټ دغه الهي او جمالی غیبی انتساب په یوه خورا لطیفه او خوږه قطعه کی داسی بیانوی:-

«لوی خدای خپلو بندګانو ته وویل چی دا توله مځکه ستاسی ده، هر څوک دی خپله برخه ځنی واخلی» خلک ولاړل، دهقانانو او زمیندارانو مځکی او پټې واخستل، سوداګرانو پیسې او مالونه یووړل، ملایان په مزدکو کی کښېناستل کشیشانو ګرجی و نیولې پاچهانو ملکونه او خزانې واخیستی.... د مځکی مال دولت وویشل سو، خو چی د شاعر وار راغی څه نه وه پاته! ده پر خدای «ج» عرض وکړ چی: ای لویه خدایه! زه

خوستا په مخلوقاتو کی ترټولو ورښتین یم، خو څه
می نه ومیندل! نش لاس یا نه سوم . خدای «ج»
وویل: نه چیری وې؟ خو خپله برخه به دی وره!
شاعر وویل: لویه خدایه! هغه وخت خوزه ستا
دعرش په غولی کی کرزیدم تا نه می کتل، ستا
کلام نه می غوږو زه په آسمانی میو مست وم، ځکه
می دمخکی نعمتونه هیرسول .... خدای وویل:
اوس خو تاله په مخکه کی څه نسوه پاتی نوزه
ستایم، ته تل زما په درگاه کی اوسه ستا ځای
دلته دی، دلته اسلامی عرفا هم لکه غربی
مفکران، دجمال او آرټ مبدأ یه یوه ماوراء-
المادهٔ دنیا کی لټوی، او [مولانا جلال الدین
بلخی] هم دهغی غیبی دنیا په یاد سندری وائی
او خپل آرټ دهغی معنوی او روحانی دنیا دیوه
واره انعکاس اثر، او دهغی نری دیادولو سوزو-
گداز گڼی :-

بشنو از نی چون حکایت میکند
و ز جدائیها شکایت میکند

کز نیستان تا مرا ببریده اند
از نفیرم مردوزن نالیده اند

«مثنوی مولوی»

همدغه مقام دی چی د اسلام اوی پوهنیال حجة الحق
[ابن سینای بلخی] هغه ته اشاره کوی :-
«هبطت الیك من المحل الارفع ورقاء ذات تعزز
وتمنع» ناسی وگوری چی د آرټ آیدیلی مبدأ د
قدیم یونان او اروپا او د اسلام د صوفی او مفکر
او شاعر ترمنځ مشترك دی، که څه هم یونانی مبدأ
فقط یو خرافی او میتالوژیك روایت دی، او د
جرمن شیللر هم نش خیال ځغلولی دی او اسلامی
مفکرین هم له یوې داسی غیبی دنیا او غیر مادی
او نامحسوس اوره مقامه گڼدی چی انسان هغه نه
وه لیدلې او نه ئې لیدلای سو ځکه چی هغه یوه
ملکوتی ماوراء المادهٔ او میتافزیکل دنیا ده، خو
بیا همدغه فکر او دغی نیوری په قرنو قرنو دانسان
پر دماغ حکومت کړیدی او د آرټ هغه عالی مبدأ
چی یوه یونانی آیدیلست فرض کوله هغه د بلخ
او قونیې قلندر هم تصور کړیده، او کله چی صوفی
پښتون شاعر [رحمان بابا] دشعر ارغنون ژغوری
نو د مولانای بلخی نیستان، را پیادوی، او په هغو
میو مست ښکاری له کومه جامهٔ چی د یونان
پخوانی شاعر یا د جرمنی پیاوړی سخنور مست ؤ .
آیدیلزم وائی: چی آرټ پخپله مقصد او هدف دی
بل غرض نلری، دشعر، موسیقی، نقاشی او نورو
نفیسو صنایعو د الهام منبع (عالم غیب) دی.
خو دا ټول نفیس صنایع او د آرټ د ونی څانگی د
ظهور او خارجی تحقق لپاره له [عالم شهود] او
مادی محسوساتو څخه کار اخلی . نو او سه هم د
انسان پوهنی او طبیعی علومو، دیوه آرټیست او
فنکار د احساساتو او جذباتو لپاره کوم مادی او
طبیعی مقیاس ندی کشف کړې نو ځکه د اصالت
تصور او آیدیلزم طرفداران د آرټیستی الهاماتو
او لیاقتونو لپاره یو عالم غیب او عرش الهی فرضوی
او آرټ د الهی جمال او غیبی ښکلا یو انعکاس او
نمایندگی بولی، او زموږ صوفی شاعر شیخ متی-
خلیل (کلات بابا) دغه مقصد په څه څر گنده
ژبه بیانوی :-

پر او یو غرو هم به دښتو کی
په لوی سهار به نیمو شپو کی

په غاړه، زغ، اوپه شپېلکو کې
یا د وېر ژلیو په شپېلو کې
ټول ستا د یاد نښاري سوري دي
دا ستا د مېړنې نښداري دي !

خاوندې ! ښکلې ستا جمال دی
ښکاره ئې لوړ په لور کمال دی
که ورځ که شپه، که بېړۍ، کال دی
ستا د قدرت کمکې مثال دی

ستا د لوړو نوښو رڼا ده
دلته چې جوړه تماشا ده

داوه د ایدیلزم ځنې څرګند مبادی به شرقي او غربي ادب کې، چې د انسان د ایدیالوجي او فکري ارتقا او ادبي حرکاتو شمزی کنل کېږي مګر هر څوني چې انسان د میټریلزم یعنې مادي فلسفې په ډګر مخ کې ولاړ، او حسي او تجربې فلسفه خپرې سوه، نو د ایدیالوجي آیدیلوجي په مقابل کې د ریلزم د فکر یو نوی مکتب یعنې حقیقت او ایجابي فلسفه ودرېده؛ چې ددې طرفداران خپل ټول مبادی د «تجربې او عمل او حس او حقیقت» پر ستوزدي دوی آرټ یو انساني او مادي مخلوق کنې، او فقط د ژوندانه د ښېګړو او اجتماعي او حیاتي مقاصدو لپاره ئې استعمالوي . دوی وائي چې هنر د انساني ژوندانه نتیجه ده، او انتفاعي شی دی . دغه وزم او آهنګ چې د شعر او موسیقي اساس دی؛ او هم نقاشي او حتی رقص او سرود او ټول مستظرفه صنایع د انسان د کار د آسانولو لپاره دي .

رقص د کار مخصوص اشکال دي، د استرالیا د خلکو نڅا د دوی د پخوانو اسلافو هغه حال ښیي چې هغو وحشي انسانانو به د وښو ریشې څنګه راکښلې او څنګه به ئې ځانونه ورنه کېږول چې به هغو کېده مړه کړي . د امریکا سرخپوستان نراوسه هم د غرځو د حرکاتو به ډول ناڅي، چې هغه بدې چم ښکار کاندي . دوی هروخت د ښکار به انتظار د غرځو به دود ایشله کوي او د دوی د آرټ مبدأ صرف مادي ده، له ژوندانه سره مربوطه ده کوم غیر مادي او غیبي محرک الري پیدې ریلیستیک تفکر کې فروید وروستنی سایکاله اوجست دوني اغراق کوي، چې ټول فنون او صنایع او انساني اخلاق او روحي محرکات او تاریخي حوادث سیاسي او اجتماعي انقلابونه پر تناسلي خواهش بنا کوي، او وائي چې آرتستان ټول هغه خلک دي چې د تناسلي محرومیت زجر ئې لیدلی، او دغه زجر تلافي پخپل هنر کوي .

عجیبه خو داده چې یوه یوهنیال یو کتاب لیکلی دی د [کارا-وریتم] په نامه او دی ټول میوزیکل آرټ خاص د کار لپاره بولي او دا ثابتوي چې میوزیک خاص د کار د تسهیل لپاره پیدا شو، داد له ریلستان او حقیقیون وائي؛ چې ژوند یو حرکت او فعالیت دی، او ادبي ژوند هم د دغه حرکته سره پر انقلابي لوړ ملګري دی، انسان د تکامل او بشپړتوب پرخوا

روان دی او ددغه تکامل لپاره
یو علمی فارمول هم سته . چی د
بشپړتوب (تکامل) حرکت
له خپله مرکزه په بعد کی د
مربع په حساب سرعت مومی نو
آرټ هم تل پدغه سرعت د
انسان دژوندانه دګټو او اړتیاؤ
پر مخ روان دی، ځکه نو دوی
وائی: چی آرتش د آرټ لپاره
ندی، یعنی بالذات مقصد نسی
کېدای، بلکه تل دژوند خادم
دی او آرټ دژوند، ددوی لپاره
هنری مسلك دی. داډله مفکران
اوس ترقی پسندان بولی، او د
دوی آرټ هم یو مترقی او آلی
شی ګڼل کېږی ددې ډلی هنر-
مندانو دهنر مبدأ پخپله ژوندون
او ماده او عمل او کار او اجتما-
عی او انسانی سایکالوجی دی
دوی آرټ دژوند لپاره غواړی
او دانسانی طبقاتو په ژوند کی
ئې دیوې مؤثری وسلې په ډول
استعمالوی او نن ورځ دوګړنی
ادب یا ترقی پسند هنر په نامه
ډېر خلک دهنر د تجدد مدعیان
دی او غواړی چی لکه سائنس
هنر او آرټ هم دانسانی بشپړ-
توب په مقاصدو کی داتوم په
ډول استعمال کاندی. بلینسکی
ددې ډول آرټ یو پېشوا وائی:

چی زموږ آرټ به په اجتماعی
روابطو کی دژوندانه لپاره وی
او نوی ادب به پرنوو مادی، او
انتفاعی لارو ځی، د انسانانو
محرومه ډله به خوش بخته کوی
او د بېوزلو او بې اسرو په
جونګړو او د خوارانو په
کوډلو کی به ګرزی، او دغه
نو یو حقیقی آرټ دی .
نن ددغو دؤ ډلو هنرمندانو
څېړنی په هر ځای کی اروېدلی
کېږی ترقی پسندان وائی: چی
دا یډیلسټانو هنر جامد او غیر
مفید او صرف تخیلی دی انسان
له تکامله محروم کوی، او دغه
خیال پرستی وه، چی انسان ئې
په ډېرو اجتماعی ناروغیو اخته
کړی ؤ .
که موږ دغو څېړنو ته ځېرسو
دا به ښکاره سی، چی نزاع
لفظی ده . او د یوه ترقی پسند
ریلسټ غایې هدف هم هغه دی
چی یوه آیډیلسټ هنرمند به
ئې تصور کاوه .
در حیرتم که دشمنی کفرو-
دین چرا ؟
از چراغ کعبه و بتخانه روشن
است .
حقیقت خو دادی، چی د آرټ
مبدأ جمال دی، او په کائناتو

کی هر ځای په هر شی کی د جمال
ننداری ښکاری، شعر د کلماتو
او الفاظو او تخیل جمال دی
موزیك دږغو او آهنګونو جمال
دی. رقص د بدنی حرکاتو جمال
دی. نقاشی د اشکالو او خطوطو
جمال دی، خو فرق دادی چی
دغه ښکلا د جمال د کوم مقصد
لپاره استعمالیږی؟ که یوه
آیډیلسټ فنکار، انسانی ښکلا
په تخیلی او تصوری ډول ستایله
او سنی ترقی پسند همدغه جمال
ستائی، او دده دهنر سرچینه او
مبدأ، هم هغه عمومی ښکلا ده
خو داډله ئې دانسانانو د حیاتی
مقاصدو لپاره استعمالوی که نه
وی، ماشین او سپاره او جوغ او
د کار توری خیرنی آلې خو دی
هم نه ستائی، او نه د میکانیکزم
په زلفو او جمال پوری بدلی وائی .
خو موږ به دې ډلی ته حق ورکوو
چی د آرټ جمالی مقاصد دژوند
د تنظیم او د انسان د ارتقا او
ښیګړی لپاره استخدام کاندی
او د آرټ یو حیاتی شی وګرزوی
اما کله کله د انسان فطری
میلان یوه مجرد جمال او آرټ
ته هم دی، چی د کوم غرض لپاره
نه موزیك آوری، او نه کوم شعر
بلکه د روحانی تسکین او

وجدانی آرام لپاره ترنم کوی، یا یو باغ او گلزار گوری یا شعر وائی، یا ناڅی، چی دا هم د انسان یو روحی ضرورت دی، او هم گمان کوم چی ترقی پسند به همدغه روحی اړتیالری.

وائی چی د انگریزی مشهور ادیب او فنکار شکسپیر؛ په خپله ډرامانویسۍ کی د دواړو مسلکو لحاظ کړیدی، آیډیلزم او ریلزم ئې سره گډ کړیدی او یو مرکب معجون ئې ځنی جوړ کړیدی، چی ډېر مفید او خوږ او د تناول او سهلو وړ دی.

که موږ د شرق شاعری ته دقیق سو، دغه کار لا مخ کی شرقیانو کړی ؤ. اکثر فنکاران وه، چی دوی د آیډیلوجی د آسمان پر کنگرو گرزېده مگر د انسان: ژوندانه او حتی طبقاتی ښیگړو فکر ئې هم درلود؛ تاسی د سعدی آیډیلی تغزلات او قصائد ولولی، بیانو گلستان او بوستان هم وگوری چی دا سحر کار فنان او آرتسټ څه بلا کوی؟

زموږ هنرمند فنکار او ډېر مشهور شاعر خوشحال خان هم په خپل ادب کی دواړی خواوی سره گډی کړیدی، د ده آرټ د ژوندانه لپاره داسی استعمال شویدی چی د آیډیلزم مزایا او هنرونه ئې هم ندی بایللی، خوشحالخان که شاعر ؤ؛ خو یو جنگجوی سردار هم ؤ، او د قوم مشر هم ؤ، د ده هنر ژوند ؤ او ژوند ئې هنر ؤ. کوم وخت چی به د مینی په معنوی دنیا کی یو پوخ آیډلست ؤ، نو به ئې مجرد عشقی سوزان اشعار ویل؛ او د آرټ تخلیق به ئې لدې جهته کاوه، چی پخپله دغسی آرټ د روحی تسکین لپاره ده ته ضرور ؤ او پدغه تخلیق کی ده کوم بل غایت او هدف نه درلود، دلته د ده آرټ خاص د آرټ لپاره ؤ، آیا دغسی روانه او سلیسه او خوږه غزل تاسی ته پخپله خوږه پښتو کی پسله ډېرو روزانه دماغ فرسائیو او روحی محرومیتونو څنگه خوند در کوی؟ آیا دغسی مجرد آرټ انسان له پکار ندی؟ زما یو سپین ږیری باذوقه متقی او فقیه استاد ؤ، چی د احادیث او تفسیر او فقه او ادب ترجدی درسونو وروسته به ئې ویل: اوس روحی تفکر او تفریح ته ضرورت دی نو به ئې د خوشحال یا شیدا یا رحمان یا حافظ یا جامی اشعار په ښه ترنم آورېدل، او ویل به ئې: دا د روح غذا ده!

پدې غزل کی زموږ مقتدر فنان (خوشحال خان) صرف د آرټ او نفاست تخلیق کوی:-

ستا وصال لکه دریاب دی زه ماهی
په هجران دی هر زمان دی په ما؛ هی
په ژړا می ځنی خواست د سپینی خولې کړ
په خندا ئې وی چی څه کادا سړی
وئې څوک ئې چی زما په کوڅه گرزی؟
ښه حاضر ځواب می ور کړ ستا مریی
هم په څور نگه ناله، هم په تن نال شوم
بېلتانه را باندی وکړ کار دنی
د ځوانۍ بهار څه ښه دی دریغه دریغه
دا بهار که همیشه په دنیا وی
گل، سنبل، نسرین، نرگس، لاله، غوتی
د مقدم سره دی راوړ درست پسرلی
چی ئې ونیسم په غېږ کی راته گوری
لکه مست د مور په پیو کم کبلی
دا شیرین یاران به نه وینم چی ومرم

خدایه ما یه جهان تل لری ژوندی
دیر صفت د ښایپریو اروبـده شی

ولی ستا د مخ څوك نه وینی مخی
اورنګ زیب به د کابل د خلل غم کا

ساقی وخت دنو بهاردی راوره می
چی زړه سوی دی د خوشحال یه فریاد نشی
یه سینه کی دی سندان دی که زړه کی؟

د خوشحال خان یه لوی دیوان کی به ناسی دغسی روحی تفکیهات دیر ومومی او دا نه زړه بیتونه داسی دی، چی فقط د آرټ یه مجرد او غیر انتفاعی اړخ پوری اړه لری. مګر خان خو یو سیاسی حکمدار هم ؤ، د خپله هنرمندی او آرټیستك لیاقت ارفنی ذوق پداسی چارو کی هم استعمالاوه، چی هغه د روزمره ژوند سره اړه لری، او کله داوسنی ترقی پسند یا ډول یو مدقق نقاد ځنی جوړیدی، چی د ریاکارانو د ریا او مکر پرده ئی څیرله، او یه ژبه ئی د تو یك کار کاوه لکه چی وائی:-

ز ما ژبه نـه ده اور ده
کـزارونه د تـو یك کا

انتقاد او کریتیکزم خو د نوی ریلزم او ترقی پسندی روح روان دی، تاسو ګوری چی خان ځنی مذهبی متعصبان او ریاکاران یه کومه ژبه رسوا کوی:-

داناراج لکه شیخان کاندی یه مکر
افریدی نـدی دا هسی نـا راجی

صفائی د زړه پکار ده نـه د زیری
څو یه زیره کرزوی شانه عـا جی ؟
دائی سحر د بنګال د مخکی راوړ؟
چی درست اوس یه کت کی وماندی حاجی!!

دغه انتقادی تیره ژبه یوازی شیخانو ته نده متوجه بلکه ظالم مغول زمامداران هم رسوا کوی، او یه هغه وخت کی چی خلکو به د اورنګ زیب پر دربار سجدی کولی، او د ګردنکشانو او لویو جهاندارانو څټونه هم د مغولو تخت نه نیت. خوشحال خان یه کومه ژبه او یه څه ادیبانه استهزا او عارفانه تجاهل دهغه ریاکاری ښیئی:-

وخت د اورنګ زیب دی
د هر چا نسی یه لاس دی

خدای خبر ئی دی یه زړو او
چی ریا، که یه اخلاص دی؟

تردی لاخوږه داده، چی د مغولو د دی ظالم امیرا طورانور شخصی افعال څنګه رسوا کوی؟

ددی دور شیخان د یردی لور پلور
اورنګ زیب پادشاه دوارودی انځور

یا هغه چاره، قلم ساز کا قرآن کی
یه هغه چاره شهرګ پری کا د ورور
یه رکوع کی تسبیحات د پلار د مرګ کا
یه سجود کی زوری خپله مشره خور

د خوشحال ژوند له قومه سره ؤ او د خپل آرټ یوه لویه برخه ئی د قوم د اصلاح او ښو لو لپاره وقف کړی وه، د ښتنو بد عادات او عیوب یه ئی غندل او دغه انتقاد ئی داسی نهز او موجه او انتفاعی ؤ چی د یوهانو یه عقیده خوشحال یوازی شاعر نه ؤ بلکه یو سوشل سایکولوجسټ هم ؤ، د لیدل چی ښتانه د خپلی جزوی ګټی لپاره ځنی ملی هدفونه او قومی او عمومی ګټی تر ښو لاندی کوی، او هم یدی سبب دوی د خپل ملی مرکزیت نښتنان ندی او د مغولو د استعمار څپی ئی ملی ژوند

ورورانوي . نو دي د پښتنو حال بيانوي :-

اوښ له باره سره کور ته ورغلی
په اولجه داوښ دغاړی دجرس دی

دمغولو او فرنګ استعمار خو زموږ پښتانه داسی استعمال کړه خو اوس هم پاکستان غواړی چی پښتانه په هغه ډول وغولوي چی اوښ له باره سره نه اخلی، تش داوښ دغاړی ګنګرۍ تالا کوي!

او د پښتنو د نبض شناس شاعر او مشر داوينا رښتيا کېږي بل ځای دده انتقادي ژبه پښتنو ته ددوی يو بل عيب داسی ښيي :-

پښتانه واړه بد خوی دی
کور په کور کاندی غورزی
يو چی سر کاندی په پورته
بل ئې ووهي مغزی

دا اجتماعي لوی او مخرب او مدهش عيب تر اوسه هم په موږ پښتنو کی کله سته کوم چی خوشحال خان څو سوه کاله دمخه ځينی ژړل او ويل ئې :-

په بل غشی بل توپك ويشتلی نه يم
که ويشتلی يم خو بيا پخپل توپك يم

خوشحالخان د ريلزم په دنيا کی مظلوم آزاری يو راز سبوعيت او حيوانيت بولی، او داسی ښکاری چی دده آرټ دغريب او بېوزلی په نفع هم استعمال شويدی لکه چی وائي :-

داچی خانان دی يا امراګان دی
په هند کی ګرزی په هر مکان دی
غوښی هډونه د مظلومانو خوری
زما تر فهم واړه د دان دی

آيا په ترقي پسند ادب کی به هم تر دغه لوړ زننده او تند تعبير د مظلومانو په طرفداری کی پيدا شی ؟

داؤدخان د فني استعداد او قريحي لنډ بحث چی د آيډليزم او ريلزم له پلوه وڅېړل شو، او لنډه نتيجه ئې داده، چی خوشحال خان يو مقتدر آرټسټ او فنکار دی چی دده آرټ او فني تخليق هم آيډيلوجيك مزايا او ښيګړی لری، چی فقط مجرد آرټ ګڼل کېږی، او په آرټ د آرټ لپاره خدمت دی . اما دی يو ريلسټ هم دی، چی د آرټ په ذريعه ئې ژوند ته هم خدمت کړی او خپل هنر ته ئې انتفاعی او عملی ډډه هم ور کړېده.

ئـو ځکه :-

همېشه به پرې ناري وی د بلبلو
داچی ساز کړنن خوشحال په ويل باغ

[پخې خبری]

جنګ

دجنګ د پاره چمتو کېدل يعنی د سولی ساتل.
«جارج واشنګټن»

* * * *

جنګ د وحشيانو کار دی . «ناپليون»

* * * *

هر څوك چی جنګ خپل خوی او کسب وګرځوی له لاسه څخه ئې بېله بېرحمی او ظلم څخه بل څه نه کېږی . «تولستوی»

* * * *

هغه څوك چی په جنګ کی پر طالع او بخت تکيه نلری تر ټولو لايق او وړ دی . «لوی فردريك»

تاریخی :

ښاغلی [سربن]

نیمروز

ددې کلمې په لیدو صرف [نیمه ورځ] د سړی فکرته راځی، حال دادی چی دا دیوې شیمی نوم دی او د تاریخی پلوډ ئې څه حیثیت هم معلومیږی تر هغه ځایه چی مؤرخینو او ذیعلاقه خلکو اظهار نظر کړیدی دا سیمه ئې د سیستان یا د هغه په شاؤ خوا نواحیو کی بللې ده؛ څرك ئې د کندهار هغه پخوانی ښار ته چی د هوتکو تر سلطنت پوری ودان او افشار نادر وران کړیدی هم منسوبوی، دا ښار چی د کندهار د اوسنی ښار وختیځی خوا ته د سربوزې دغره په لمن کی پروت او کنډواله ولاړ دی؛ ختیځه خوا ئې تو له د سربوزې غره نیولې ده، دا چی څوك وڅوك د نیمروز اشاره ورته کوی وجه ئې داده چی د ما پښین له خوا ډیر وختی دا ښار دغره په سایه کی پټ سی او چی په نورو هوارو ځایو کی سپینه ورځ وی دلته بیا د ماښام نخښی ښکاره سی او ورځ ئې لکه نور ځایونه د لمر د روښنائی څخه څه محرومه وی چی د غره ددې طبیعی موقعیت په وجه رشتیا [دلته ورځ نیمه وی] نو کوم کسان چی پردې ځای د نیمروز حکم کوی وجه تسیمه ئې هم داده.

نور نظریات چی نیمروز وبلی خوا ته کشوی پدې ډول دی:-

د ریاض المرتاض مؤلف «صدیق حسن» لیکی: چی زابلستان او نیمروز نن ورځ د سیستان په نامه سره شهرت لری، مګر د تاریخ العجم عربی تاریخ لیکونکی بیا د نوموړی نظریې څخه مخالفت ښکاره کوی او وائی: د زابل (سیستان) و لویدیځی سیمی ته نیمروز ویل کیږی.

په شهنامه کی لیکل سویدی چی د سیستان لویدیځه برخه لدې جهته څخه نیمروز بلل کیږی چی پخوا دلته د اوبو یو لوی ډنډ ؤ؛ [هوشنګ] په نیمه ورځ کی وچ او د ښار بنائې پرو کړه.

د سیستان د تاریخ لیکونکی بیا وائی: چی نیمروز د سیستان له ښارو څخه یو ښار ؤ ځکه چی د سیستان ټولو اکانو به دلته په کال کی یوه ورځ عدل ؤ داد کاوه نو لدې جهته څخه ئې نیمروز باله، [ابوالفرح بغدادی] بیا بیخی بله لار اخیستې ده دا اقوال کرټ نه منی او لیکی: چی د نړۍ حکماؤ تو له جهان د لمر پر راختلو او لویدلو باندی وېشلی دی له هغه ځایه څخه چی لمر په لنډه ورځ کی را وخیژی او د لویدیځ ولورته په بیخی اوږده ورځ کی ولویږی دغه فاصله پر څلورو برخو باندی وېشل سوېده چی شمالی حد ئې باختر او جنوبی حد ئې نیمروز بولی، منځنۍ برخه ئې بیا پر دؤ برخو باندی وېشل سوېده چی ختیځه برخه ئې خراسان او لویدیځه برخه ئې ایران بللی دی، د تاریخ بیهقی مؤرخ دده دا نظریه تر یوې

[نور په ۱۱ مخ کی]

د کابل له شهر آراء څخه

زارسېدلی لیک

ډېر گران ورور کرزی صاحب!
د کندهار مجله ماته رارسیږی.
هېر شوی نه یم. ژوندی دی
غواړم او د کام په خدمت ستړی.
وروره! ډېر خوشاله یم چی د
کندهار مجله پخواهم نسبت
نورو اطرافی مجلو ته ستایل
کېدله او اوس هم ستایل کېږی.
دلته ځان تا او خپلو هغو وطنوالو
لیکوالو ته چی دا موفقیت ئې
مرهون دی څه پړ بولم ځکه
پدې خدمت کی بې برخی پاتی
شوی یم، یا دا چی خپله هغه
ذمه واری چی ما د یوه کندهاری
په حیث پرځان لازمه بلله
دژوند بدو شرایطو او کړاوونو
راڅخه پاتی کړېده، په هرحال
زه پړ یم او د مجلې متعلق د دې
پړې جبران پرځان پور بولم.
وروره! د کندهار مجلې درې
گڼې یو ځای د سید جلیل اقا
په واسطه ماته راورسېدلې او د
رسېدلو سره سم ماد ۱۳۴۰ کال
د قوس مجله و کتله ډېر ښه
خوند ئې راکی؛ مجله د مضامینو په لحاظ ښه در نه مجله گڼل
کېږی په زیاته بیا د مجلې په دوهمه پشتۍ کی د سترو پښتو لویانو
او باچهانو وینا ستا انتخابی ابتکار بولم.
په مضامینو کی رنگینی یعنی تنوع او د ښو پخو لیکوالو آثار
پکښی ترجمه یا اقتباس شوی دی. سرمقامه، د هیگل او مارکس
مضمون په عین صورت دهلن کلر، کلاسیك، توماس ادیسن مضامین
زما خوښ شول مگر شعری انتخاب دی نور التفات ته ضرورت وینی.
او پښتو؟
وروره! د ځینو مضامینو پښتو ماته ښه ډېره کمزوری وایسېده او
دا علت نه شو را معلوم چی ولی؟ خیر؛ هر اخبار په یوه برخه کی د
یو ډول کمزوریو خاوند وی، مگر بیا هم راشه چی سترگی نکړو
پرېټی مثلاً:- [د شاپیریانو ....]

(د لسم مخ پاته برخه)

اندازې پوری معقوله بللې ده
او پدې نظریه کی ورسره
همنوا دی.
نو د دغو پورتنیو وجوهاتو او
اختلافاتو په جهت قطعی څنگه
ووایو چی نیمروز پلانی ځای دی
خو که بیا هم پدې سبب چی د ډېرو
اتفاق د سیستان پر حدود وراغلی
دی دا گړی باید [نیمروز]
هلته فرض کو.

تر عنوان لاندی په مضمون کی
دا جملې وگوری ء!
۱- « د شاپیریو یو شمېر نکلونه
چی د ډېرو ښکلاؤ سره لیدل
کېږی اکثراً د یوه انسان
څخه نورو ځایو ته خپاره شوی
دی ».
داوه هغه جمله چی ماته ئې دا
ډول لیکنه سمه او روانه معلو-
میږی. « د شاپیریو ځینی هغه
نکلونه چی په خوږه ژبه ویل
شوی او اورېدل شوی دی د یوه

انسان د خولې څخه، د نورو انسانانو خولو ته رسېدلی او خپاره شوېدی».

یا دا جمله: «دا نکلونه خورا ډېر دی چی مشهور ئې طلائی وېښتان ډېر شهرت لری».

که دا ډول لیکل شوی وای روانه او سلیسه پښتو به وای: «دا ډول نکلونه خورا ډېر دی چی د «طلائی وېښتان» نکل ئې خورا مشهور او ښه شهرت لری».

په عین مضمون کی دا جمله هم روانه پښتو نه بلل کېږی «که څه هم نن څوك وشاپیریانو او ددوی وجود ته کومه عقیده نلری ولی کلیوالی خلك او اغلباً وړو کی دا نکلونه خوښ لری» یعنی که دا ډول لیکل شوی وای روانی به ئې درلودای «که څه هم نن شاپیریو ته څوك عقیده نلری خو بیا هم کلیوال او په زیاته بیا واړه دا نکلونه خوښوی».

په دې ګڼه کی تر یوه عکس لاندی یوه دا ډول جمله لیکل شوېده: «پخوا پدې سیمه کی عصری تعمیراتو وجود نه درلود» دا جمله که دا ډول وویله شی روانه او د کام محاورې ته نژدې کېږی «پخوا پدې سیمه کی عصری ماڼۍ یا تعمیرونه نه ؤ»

د کلاسیك د مضمون تر عنوان لاندی مضمون کی دا جملې وګوری:-

۱- موږ اکثراً د کلاسیك لفظ اورو چی د خلګو په اظهاراتو کی استعمالېږی.

دا جمله که دا ډول وای روانی به ئې درلودای «موږ د اکثرو خلګو له خولو څخه د کلاسیك لفظ اورو یا دا چی د کلاسیك لفظ خلك دا ډول استعمالوی».

۲- یا دا نګلیسی ادبیاتو د کلاسیك په جمله کی دغه اثر ډېر لوستل کېږی. د دې جملې په معنی زه ښه پوه هم نشوم خو احتمالاً وایم چی دا معنی به افاده کوی، یا په انګلیسی کلاسیکی ادبیاتو کی دغه اثر ډېر لوستل کېږی.

دغوړه مال تر عنوان لاندی مضمون کی دا جمله «یوه شاعر د عربو د یوه بډای په وړاندی د مدحی قصیده ولوستله» که دا ډول افاده شوی وای عامه محاوره به وای «یوه شاعر د عربو یوه بډای ته یوه قصیده ولوستله».

بله جمله په همدغه مضمون کی «د ډېری خوشالۍ او خندا څخه ئې خوله دوری او هیسته ولاړه» چی روان او محاوری شکل ئې دا دی: «د ډېری خوشالۍ او خندا څخه ئې خوله ویره ولاړه».

یا دا جمله: «د شاعر چی د دا هومره مبلغ د بخښلو آواز تر غوږ شو» دا ډول سلاست پیدا کوی «شاعر چی د دونی یا دومری بخښښ ازانګه یا زغ واورېد».

ښه! په همدې ګڼه کی یو شعر هم د [کوچۍ] تر عنوان لاندی نشر شوی دی چی په یوه بیت کی ئې د «غال مغال» لفظ دا ډول استعمال شوی دی «کوچنیان ؤ په غال مغال کی» د شاعر «ږوږ» غرض دی ږوږ که نه وی «چیغاری» چیغاری که نه وی «کرږی» دا ټول کلمات د فارسی سوچه غال مغال پر ځای استعمالېدلای شوای.

یا د «نهال نو رسته» صفت په دې بیت کی [که هر څو د پښتانه د بڼ نهال نو رسته یم]

دلته مطلب «تانده لښته» ده چی د نهال نو رسته په رنګ راغلې ده. بل ځای [د جهل په دام بسته] او داسی نور هم شته چی موږ پښتانه دا مطلب دا ډول څرګند وو:-

«په ۱۳ مخ کی»

ښاغلی عبدالله [بختانی]

د پاڼینو په ځواب کی

گرانه پاڼینو !

ستا هغه [کره کتنه] چی د کندهار مجلې د تېر کال په لسمه گڼه کی زما په یوې لیکنی [د مذکر جمع] باندی وه ولوسته .

زه په دې ډېر خوش شوم چی زموږ زلمو لیکوالو انتقاد ته مخه کړېده او د علم او ادب ارتقا او انکشاف ته ئې مخه شوېده. زه ستا دغه اقدام ته په ډېرښه نظر گورم او آفرین درته وایم .

هیله ده چی دغه سلسله تعقیب کړی او تل دغسی انتقادونه وکړې .

گرانه وروره !

زما په مقاله باندی ستا د انتقاد په باره کی زه ځینی خبری لرم مهربانی وکړه تر اصلی خبرو د مخه دا یوه فرعی مگر ضروری خبره هم واوره !

هغه دا چی زما مقاله په کابل مجله کی خپره شوېده، او تا ور باندی په کندهار مجله کی انتقاد کړېدی دغه کار شاید کوم اصولی موانع ونه لری خو دومره ده چی د کابل مجلې او د کندهار مجلې مشترکین اکثراً سره بېل اشخاص دی .

او هغه کسان چی کابل مجله ورته رسیږی او د کندهار مجله کی اشتراک نه لری هغوی ستاسو له انتقاده استفاده کولې نه شی او کوم کسان چی کندهار مجله لولی او کابل مجله نه . هغو به په کابل مجله کی زما مضمون نه وی لوستی نو پدې سبب سره ددې چی ستاسو له مضمونه پوره استفاده کولی نه شی، سم قضاوت هم نشی کولی او ځانونه په تیاره کی وینی.

ته باور وکړه! چی زه پخپله هم متأسفانه په کندهار مجله کی اشتراک نلرم او که زما د یو دوست مهربانی نه وای نو زه به هم ستاسو د کره کتنی نه بې استفادې پاته وای. «۱۴ مخ کی»

د «رارسېدلی لیک» پاته برخه

«د جهل په کوهی یا کنده کی لوېدلی یم» یا «روندیم» مگر دا ډول کلمات نه دا چی پښتو ندی بلکه مفغن هم نشو ورته ویلای یا دا چی وائی «د نا پوهو گلدسته یم» آیا دا ډول جمله ستاسی په قضاوت په کندهاری محاوره کی اوس شته یا د قدماو له خوا د پاخه او مستند لفظ کلمې یا جملې په حیث لیدل شوې او قبول شوېده .

په هر حال د خپل ښاغلی ورور کرزی یا نور وتولو هغو لیکوالو څخه ددې رډ جرئت معافی غواړم او د مجلې د ښه والی په غرض د عفینا الخلق روی نیسم په ډېر احترام .

«محمد دین ژواک»

ګرانه وروره !

ستاسو په کره کتنه کې ما ځینې داسې نکات ولیدل چې هغه ستاسو په نفسیاتي کیفیاتو پورې اړه لري د هغه څه جواب ما سره نشته؛ ځینې داسې ټکي هم ؤ چې هغه د کابل مجلې په اداري پورې اړه لري نه ما پورې. ځینې داسې ؤ چې زما په معلوماتو ئې څه اضافه کوله او په ځینو کې ستاسو ډېر دقت په کار ؤ، چې زه به ددې دوو وروستیو نکاتو په شاوخوا کې یو څه ولیکم.

د عنوان عربي کلماتو، ته حیران کړی ئې او زه دې ته حیران شوم چې ستاسو تجویز شوی عنوان [د مفرد و، مذکرو نومونو او صفاتو جمعي] کې همدغه کلمات عربي ؤ [مفرد، مذکر صفات او جمع].

بیا هم ستاسو دغه تجویز پدې لحاظ چې په موضوع باندې واضح دلالت کوي زما خوښ شو.

خو د جمع په ځای د جمعې لیکل داسې مثال لري چې سړی د دینیاتو په کتاب کې د لمونځ د عنوان په ځای لمونځونه ولیکي. ستاسو پدې ترکیب کې زه د مفرد د قید سره هم موافقت نلرم، دا پدې نه چې ستاسو مثال «اولس» د جمعې نوم نه ګڼم او مفرد ئې ګڼم چې جمع ئې اولسونه دي. بلکه ددې لامله چې زما د خپلې لیکنې په ۱۲ ماده کې د جنس نومونه په ۱۳ ماده کې مصدرونه او په ۱۴ ماده کې ځینې هغه کلمات چې د مفرده بڼه کې د جمع معنا ورکوي، او په ۱۶ ماده کې هغه صفتونه چې د مفرد او جمع د پاره یو راز استعمالیږي ذکر شوي دي پدې لحاظ پاته شوو [د مذکرو نومونو او صفاتو جمع] کله چې پخپله د متن نه معلومیږي چې بحث د نومونو او صفاتو دی نو د هغو ذکر نه فرضیږي.

او ستاسو تجویز ته د استحسان په نظر ګورم.

د کټه ګوریو د جوړولو د نقص په برخه کې منم چې ډېر نواقص به ولري، خو کومې برخې ته چې تا اشاره کړېده، هلته لفظي کټه ګورۍ په کلماتو کې د «خج» د شتوالي او نشتوالي په اساس جوړې شوېدي، لطفاً ئې بیا وګورئ.

د مثالونو د زیاتوالي او کموالي په برخه کې ستاسو د اخبره منم «چې دغه پېښه بخپله د کټه ګوریو پر ماهیت باندې ډېره اغیزه لري» کېدی شي چې په هغو کټه ګوریو کې چې ما ډېر مثالونه ښودلي دي ډېر نور مثالونه هم شته او په هغو کې چې لږ مثالونه ورکړه شوېدي، د هغو مثالونه به په ژبه کې هم لږ وي.

او ما خپل مطلب پدې نزاکت ادا کړېدی.

نوټونه او فوټ نوټونه که ډېر دي زما په نظر کې همدغسې ښه ښکارېدل، که د ژبې د مطالعې په لړ کې ما کومه مهمه کټه ګورۍ په نوټ یا فوټ نوټ کې اچولی وي، نو ستاسو په توضیح به زه پوه شوې وای.

د لهجو په برخه کې دومره توضیح کوم چې اساساً ما دا مضمون د ننګرهار د لهجې په اساس لیکلی او په مهمو او مشهورو مواردو کې مې د کندهار لهجه هم تر نظر لاندې ساتلې ده، څرنګه چې زه د کندهار او نورو سیمو په لهجو هغومره واقفیت نلرم چې د ننګرهار په لهجه ئې لرم ځکه دا برخه زما په مضمون کې نیمګړی غوندې ده، او دا نیمګړی کار مې پدې نیت کړېدی چې د زلمو لیکوالو*

* توجه دې خواته واړوم گوندی کوم محقق خپل گرامر دتولو لهجو په اساس و لیکی .

دهغو نومونو په باره کی چی مفردئې دمغیره عواملو په اثر تغیر کوی او د تغیر شوی مفرد او اصلی جمع شکل ئې یو راز کېږی هم تاسو داشتباه سره مخامخ شوی یاست او لږ په تفصیل ږغېدلی یاست زه به ئې په لنډ صورت درته عرض کړم:

ما پخپله لیکنه کی په دغسی مواردو کی دجمع شکل لیکلی نه پخپله جمع، لطفاً پدې برخه کی بیاغور و کړیء .

هوا دتغیر ورکونکو عواملو عبارت منم .

د کندهاری پښتو له مخه چی تاسو کوم یادونه کړېده؛ د شپون، شکون او کوږ جمعی د ښاغلی رښتین د پښتو گرامر په حواله ذکر شویدی، اودالو زردالو، شفتالو په باره کی ما د ننگرهار دلهجې په اساس د جمعی شکلونه لیکلی دی.

که تاسی وغواړی چی دغه شکلونه واوریء اورېدلی ئې شیء په احترام .

لیکونکی عزیزه [رشاد]

خوشالی

او

خواشینی

هغه موضوع چی عنوان ددې مقالې تاکل شویدی په هر ځای کی او دتولو انسانانو پرحال شامل دی .

تاسو ددې مجلې گران لوستونکی ځوان او زوړ، نر او ښځه له دې ؤ حالو څخه وتلی نه یاست یا به خوښ او خوشاله یاست یا به خوابدی او فکرجن دغه موضوع د مرگ تروخته پوری زموږ سره لاس په گرېوان ده او یو گړی هم زموږ څخه بېلتون نلری .

اوس چی مو د ژوند داملگری او د حیات داشریك وپېژندی راسی چی هغه ترڅېړنی لاندی ونیو، وگورو چی لویانو او پوهانو د کلونو د تېرېدو په ترڅ کی د هغه په باره کی څه راز مطالعې او څه وینا وی کړیدی .

ابراهیم لیکلن دامریکا جمهور رئیس به ویل: « زیاتره کسان دومره خوشاله دی چی دفکر له مخی د خوشالۍ ومنلو ته تیار شویدی خوښی او خوشبختی زموږ په وجود کی ده او له خارجی دنیا سره کومه رابطه نه لری .

ارستیو کلیس چی موږ هغه د افلاطون په نامه سره پېژنو وروسته له یو عمر تفکر څخه ودې نتیجې ته ورسېدی چی د انسانی ژوند په ټولو چارو کی کوم شی چی د اندېښنې او نگرانۍ سبب وگرزی هیڅکله

وجود نلری .

بدې وینا کی اسرار پټ دی چی باید وڅېړل شی . انسان کولای شی چی د ژوند ټول غمونه او کړاوونه په سره سینه وزغمی . که څه هم دا خبره ډېره سخته ده لېکن لوی خدای «ج» وانسان ته دومره استعداد ور کړیدی چی هر کله وغواړی له هغه څخه استفاده کولای شی داسی څرګندیږی چی زموږ نرتصور اضافه انسان د قدرت او ستر طاقت خاوند دی .

ملتون درې سوه کاله دمخه پداسی حال کی چی د سترګو له بینائی څخه محروم ؤ پدې حقیقت پوه شوی او ویل به ئې: «چی د انسان ماغزه پرخپل وخت کولای شی د دوزخ څخه جنت او له جنت څخه دوزخ جوړ کړی» او هم ده به ویل: «چی بدبختی او بېنوائی دا نه ده چی انسان ړوندوی بلکه بدبختی دې ته وائی چی انسان د ړوند تیا تحمل ونکړای شی» .

موږ باید دهغو بېښو سره چی چاره نه ځنی لرو سازش وکړو او دهغو چارو دا چرا څخه چی زموږ له قدرت څخه وتلی وی پخلاسو . پدې باره کی د فرانسې نومیالی فیلسوف وائی: «هر انسان څومره چی د حوادثو له اندېښنی څخه بېریږی هغومره پخپله له له حوادثو څخه زحمت نه وینی .

ګران لوستونکی چی تر دې ځایه دا مقاله مطالعه کړیده وبه وائی چی دا خو د پوهانو لارښوونی او وینا وی دی، آیا بله کومه چاره شته چی موږ غم او خواشینی په عملی ډول له ځانه لیری کړو او یا هغه په خوشالۍ الیش کړو په ځواب کی ئې وایو چی هو کې دا کار ممکن دی ځکه د نفسیاتو ماهرانو د دې د پاره د علاج لار موندلې ده .

ویلیام جیمز دامریکا نومیالی روان شناس وائی: «چی د خپلو اعمالو په تغیر سره کولای شو چی احساساتو ته هم تغیر ور کړو .

کله چی ستاسو څخه خوشالی ولاړه شی نو یوازنۍ لار چی ستاسو وهغې خوا ته لارښوونه کوی هغه داده چی په ورین تندی لکه چی هیڅ غم او خفګان نلری خوشاله کښېنی او د دنیا ټول غمونه هېر کړیء د پخوانیو ارمانجنو خاطرې یاد پخپلو دماغونو کی مه درګرځوی ء او د راتلونکو ناوړو پېښو په شاوخوا کی فکر مه وهیء کوښښ وکړیء چی د حال په زمانه کی مو طبیعت خوشاله اوزړه آرام وی .

خوږې خبری

مور

هغه څوک چی دوړو کو د زانګو تناو په لاس کی لری تر هغو چی د حکومت د چارو واګی ئې په لاس کی دی ډېری مؤثری د نفوذ لرونکی دی . [اسمایلز]

** **

هر وخت چی مندی فاسدی سی نسل هم فاسدیږی .

** **

په هر ځای کی دوړو کی ښه او بد په مور پوری اړه لری .

[ناپلیون]

** **

هیڅ شی د خپل اولاد سره د یوې مور دلیدلو په اندازه روح نه خوشاله کوی او هیڅ شی زموږ د احترام او تقدیس حس د هغې مور په اندازه چی وړو کی ئې پر شاوخوا راګرځېدلی وی نه بیداره کوی .

[ګوپته]

ښاغلی عبدالحی [حبیبی]

د زړه ډیوه

تورهٔ شپه ده تور زنګل دی — پکښی ورك یم سرګردانهٔ
نه څه وینم، نه پوهیږم — نه رڼا شتهٔ ښیهانهٔ

ځم خو نه پوهیږم چیری؟
دا خبری رأنه هیری

بصیرت می زایل شوی — ړوند وکوڼ یمه بې فکره
نه خبر یمه له ځانهٔ — ورك ددې، هغه، له ذکره

مهٔ شی ورك هسې تیاره کی
چی دی عقل وحس کار نه کی

داچی ګرزمه بې فکره — بې سنجشهٔ ښور ېدل دی
داچی ژوند کوم تیارو کی — نه ژوندون نه سوچ کول دی

زه یم مړ ځان ژوندی بولم
د ژوندون سندری بولم

په دې توره تیاره ورك وم — داسی ږغ راغی له ورایه:-
ځان ته بل د «زړه څراغ» کړه — ترڅو وېر کوی بې ځایه

په رڼائې ځه مقصد له
لاردی مومهٔ عقل وسدلهٔ

دا ډیوه ده ډېره روټهٔ — رونوی کلی کور واړه
عقل وهوښ شی په روښانهٔ — ښه ځلانده شی په دواړه

دا څراغ بل که په کور کی
ددې مینی په هر لور کی

ښاغلی عبدالشکور [رشاد]

د پردیسانو زغ

اوریځو! درومی د وطن خواته — سلام مې یوسی هغه اشنا ته
چی زړه ئې ډک دی زما له یاده — سترګی کېږي دی زما وخواته

* * * *

که مینی مینی! د اشنا مینی! — وچی له تا شوي دزړونو وینی
لیمه شول ستړی له اشکباریه — د آه له تاوه سینی شوی خوړینی

* * * *

اوس به بهاروی په پښتونخوا کی — ګلان به پنځی په شاوخوا کی
په مینه راشه هغه شماله! — چی دی ژوندون شته په سړه ساکی

* * * *

که ژونده ژونده! د مینی ژونده! — په غم دی ډکه د غم لمن ده
نامراده زووم نامراد به ومرم — ماته می نه شوه د وصال تنده

* * * *

اوس به می ایشی په پیمانو کی — رندان به ټول وی په میخانو کی
ساقی به وائی افسوس چی نشته — «رشاد» پردیس دی په وطنو کی

* * * *

تریاد دی جارشم ساقی دلشاده! — زړه می آباد دی داستا له یاده
جهان می واړه ترتا ندری شه — چی هېر دی نه شی رشاد نامراده

ښاغلی سلیمان [لایق]

[له کابل څخه]

وړي قطري

څه کوی دا سره کوچنۍ وریځه له آسمان سره ؟
څه غواړی دومبسکی «۱» له موجونو د توفان سره ؟

ولی دا مجبور بشر ناري د آزادۍ وهی
څه دی د لاس ماتی د مړوند له امتحان سره ؟

نه نه ؛ ای شاعره ! ته وهمونو غولولی ئې
ګوره چی لا څه کړی دا مجبور له این و آن سره

دا ماشوم دومبسکی په موجونو کی اسیر نه دی
دا بڅر کی وریځه سپکه نه ده له آسمان سره

دې وړونه ګوره په واړه نظر ونه ګورې
مل که ئې قطره نه وی نو څه دی له توفان سره ؟

د اوړی قطرې به عالمونه لاندی باندی کړی
پوکه شی له میل و زمان او د مکان سره

مه اخله نظر ، بلند نظره ! له دې تیټونه
سپک به دی شی وزن د جګوالی له میلان سره

«۱» حباب .

ستا د پاره

زه چی تل د ژوند ترخو غمونو ژړ ولی یم
زه چی ناکامیو ، بدبختیو کړولی یم

زه چی خپلو هیلو کباب کړی عذاب کړی یم
زه چی هر ظالم لکه یتیم غوندی وهلی یم

زه چی د هر مار او هر زمری خولې ته طعمه یمه
زه چی هر نامرد د جفا غشی ته تړلی یم

مرحوم ملا رحمت الله بابا

پرویل د رحمت الله به تصدیق وکړی

په کیمیا پسې عبث دی تجسس
هم دغه ډول غوښتنه د پاروس

پر ځانو باندی بخپله شاهدان شی
د دنیا مینی ته وسپاری نفوس

تردې دواړو په راحت کی هغه بوله
چی خواړه خوری داوربشی د سبوس

د هرچا خوړل چی قوت لایموت شی
و علاج ته محتاج نشی د بړوس

محنت ښه دی مګرنه تر هسی حده
چی سودائی کړی په سر کی ماغزه بوس

په دنیا کی کفایت پنبه وړی دی
د جنت دا استبرق دی او سندس

ولی نه مومی هغه فیضانی خاوره
چی پر کړی اهل د لووی جلوس

له هغو ځایو څه یو هغه زندان دی
چی معصوم حضرت یوسف ؤ پر محبوس

پرویل د «رحمت الله» به تصدیق وکړی
که ژوندی شی فردوسی شاعر د طوس

زه چی لکه دروی دهر شپون ترجمانی کوم
زه چی هر محروم خپلو دردونه ږغولی یم

زه چی د قام فقر او ناپوهۍ د سپیلنی په شان
هره ورځ په تېغنه د تورونو اړولی یم

زه چی د ناوړه زمانې په هره لوبه کی
سل ځلی په مخ باندی لوېدلی درېدلی یم

ما دا همه واړه ستا په مینه کی زغملی دی
اې ګرانه هیواده ! ستا دپاره می منلی دی

ښاغلی [مفتون]

شمع ویل

د زړه قرار په میخانو کی نشته
د ژوند قرار په ترانو کی نشته

بېګا ژړا ژړا کی شمع ویل:
چی سربازی په پروانو کی نشته

بها د اوښکو د مینو سترګو
ستا په بې شمارو خزانو کی نشته

تسبیح مې پورته کړی آواز وشواو
ته چه څه ګوړې دی دانو کی نشته

یا زما مینه منطقی شوه جوړی
یا جوړ شوخی ستا بهانو کی نشته

کومه نشه چی د کوکۍ غم کی ده
نشته د میو پیمانو کی نشته

ښاغلی احمد ګل مومند [لرغونی ادب]

یوه ورځ به دا نیمګړی جهان وران سی

چی له کبره ؤ روان د پښو پر نو کو
اوس ئې ګز خاوری پر تې دی پر هډو کو

یوه ورځ به دا بلبل خاورو ته ورشی
دا چی نن لو بوی خیال د ګل په څو کو

عاقبت به دا نیمګړی جهان وران سی
نه دا ستا دی نه زما نه د ملو کو

یوه ورځ به د انبور د خولې مړۍ شی
ظالمان چی سرې بوټۍ خوری په مشو کو

احمد ګل غریب تر سپینی ږیری پوری
تمام عمر پر ځان تېر کړ د وړو کو

ښاغلی [نجیب]

د سانسکریت د ژبی لغات

په پښتو، پارسی او عربی کی

د سانسکریت ژبه چی د آریائی ژبو مور ګڼل کیږی ځینی لغات ئې لا تراوسه پوری په پښتو، پارسی او هم په اردو او هندی ژبو کی استعمالیږی او ځینی ئې په هند کی د عربو د نفوذ او اقتدار په زمانه کی عربی ژبی ته هم منتقل سوی دی که څه هم بدې لغاتو کی د زمانې په مرور سره څه لفظی تغیرونه راغلی یا اصلی کلمې بېلې تحریفه څخه به معنی کی تغیر پیدا کړی وی خو په هر صورت سره د تغیر جزئی او د څه اهمیت ور نه دی زه غواړم چی په لاندنیو کرښو کی د دې ژبی لغات چی تر یوې اندازې له پورتنیو ژبو سره لفظی یا معنوی نژدې کت لری دلته راوړم.

۱- ستی: د لس زره لغات د کتاب لیکوانکی لیکی چی پښتانه ستی هغی ښځی ته وائی چی مېړه ونه کی او مجازاً د فدا کار او عشق سوځل سوی په معنی سره هم استعمالیږی په بل ځای کی ئې دغه د ستی کلمه د شاهتری په معنی سره ضبطه کړیده، په معروفه [ی] سره ئې مطلق سوخته معنی ځنی اخستې ده په سانسکریت کی وهغی ښځی ته ستی ویل کیږی چی له مېړه سره یو ځای ځان په اور کی وسوځی.

۲- حرج: د حرج کلمه د [ر] په سکون او د [ح] په فتحه سره په عربی ژبه کی د سختی، ګناه او سپمولو معنی ور کوی په سانسکریت کی په همدغو حرکاتو او سکناتو سره د نقصان معنی لری.

۳- مخ: په سانسکریت کی مخ ته [موکھ] وائی په پښتو کی ئې صرف [ك] په [خ] اړول کیږی او ور نو همدغه کلمه د همدغه یوه مقصد د پاره استعمالیږی.

٤- ستان: د ستان کلمه چی په پارسی کی د اسم مکان له آدانو څخه ده په سانسکریت کی هم د مطلق ځای معنی ور کوی.

٥- دوار: د دوار کلمه چی په سانسکریت کی د دروازې معنی ور کوی په عربی کی د [و] د حذفیدو په شرط د خونی او کور معنی ور کوی په پښتو کی [ور] دروازه بولی د [د] او [ا] په ایسته کېدو سره ئې معنی بو شانته ده.

٦- دوك: په پښتو کی د مصیبت غم او تکلیف معنی لری په سانسکریت کی کټ مټ بدغه معنی استعمالیږی.

۷- ادره: د الفت په پښتو ژبه کی د ویری او په سانسکریت کی د عزت په معنی سره استعمالیږی.

په پښتو کی ئې استعمال داسی دی مثلاً: کندهاریان په هغه وخت کی چی یو مهیب شی وینی نو وائی په خدای «ج» [ادر] می ځینی وسو، مطلب *

[ښاغلی ویران]

ښاغلی عبدالرحیم «هاتف»

ښاغلی عبدالرحیم «هاتف» دمولوی محمداویس «کاکړ» زوی د ملامحمدنور لمسی اود ملا دین محمد کړوسی په خټه‌مندوخیل کاکړ دی سن ئې د ۳۶ کالو؛ په ښه بشاش او نهایت خوش‌اخلاقه، ذکی اود ښې حافظې څښتن دی، پېشه ئې اوس تجارت ده او په تجارتی امورو کی خلاف دخلکو له عادت سره چی دډېرتاوان سره مخامخ کېږی خورشتیا وائی، خطاایستل اوفریب عار بولی او هرڅه ئې بې جنجاله خوښ دی چی پدې وجه ډېرځله دښه معامله‌دار نوم پر یادېږی اوهم خلاف دنورو سوداګرو دژوند سره دتفریح وخت په تفریح ډکوی دکار پروخت په کار لګیاوی، د موسیقی سره هم علاقه ساتی دخپلی کورنۍ او کشرانو دپاره برسېره پردې چی مشر ئې دی او دډوډۍ غم ئې خوری یو لائق معلم ئې هم دی. دپېژند ګلوی نوره برخه ئې چی پخپله ددوی په قلم ده لیکو:-

ښاغلی هاتف پسله هغه چی خپل اود پلارؤ نیکه نوم په لوړ ډول معرفی کوی داسی پسې لیکی:-

[د پلارؤ نیکه کسب می تجارت دی خو تیرو نیکه ګانو می ځانونه په مځکه مصروف ساتل پلار می تر تجارت پخوا په معلمی لګیاوو او دپښتو دنوی نهضت په سلسله کی ئې په نظم او نثر مرسته کړېده او د لیکوالو په صف کی درېږی، زما نیکه خپل د پښین د «تکۍ» له کلی څخه کندهار ته رالېږدېدلی دی دلې لومړی د

---

* دادی چی ځنی وېرېدم.

۸- بابو: پښتانه و سپین ږیری ته بابو وائی ځینی خلک نیکه بابو بولی په سانسکریت کی وزمیندار یا پلار ته بابو وائی په عربی کی ابا یا دپښتو ژبی باباهم ورنژدې دی.

۹- هلك: په سانسکریت کی بانك وهلك ته ویل کېږی په پښتو کی ئې [ب] په [ه] سره اړول سوی او [الف] ئې حذف سویدی.

۱۰- بده: په سانسکریت کی دا کلمه د عقلمند او هوښیار دپاره ده په پښتو کی یو نافیه [نا] ورسره راځی چی نابوده ځنی جوړېږی او د بېعقل او بې وقوف معنی لری مثلاً: دا پلانی «نابوده» سړی دی.

پرته له دې په سانسکریت کی نورهم ډېرلغات سته چی د دنیا وډېرو ژبو ته ورته دی خو دا ګړی می داڅو لغات چی لوړ ذکر شول راوړل.

ارغنداو د «سردۀ» په کلي کې بيا په ښار کې د ننه او سېدل کو بازه يوې داسې اوسطې کورنۍ ته منسوب يم چې د پوهنې او ډوډۍ په لحاظ نه ډېر وتلې دي او نه ډېر نتلې خو د اخلاقو او معاشرت په اعتبار ئې ښه شهرت زيات دي .

زما مور د مرحوم رحمت الله بابا چې د کندهار د معاصرو شعراؤ څخه ؤ لور او د مرحوم عبدالله پوپلزي لمسۍ ده چې هغه نوموړي د خپل عصر ښه شاعر وو او «محزون» تخلص ئې کاوه، د دغو نوموړو تر اشعارو د دوی د نفس کرامت ډېر د ستاينې وړ دي نو که مبالغه رواوي بايد ووايم چې زه د شعر ؤ ادب په غېږ کې روزل سوی يم لېکن حقيقت دا دي چې د شعر او نفسي ادب په لحاظ و خپلو اسلافو ته پوره نسبت نلرم .

زه د ۱۳۰۵ش کال په سرطان کې د کندهار د نورزو په کوڅه کې زېږېدلی يم د شپږو کالو په سن کې ئې د «شالمار» ښوونځي ته چې اوس ئې نوم په مشرقي ښوونځي اوښتي دي داخل کړم تر لومړنی تحصيلاتو وروسته د کابل د احضاريې و مکتب ته وتاکل سوم چې د عمر د لږوالي په عذر ئې بيا نرما لاس واړاوه، وروسته د احمدشاه بابا ليسې ته داخل سوم چې په هغه وخت کې متوسطه مکتب ؤ او کله چې د نهمې تولګۍ څخه بريالی سوم زموږ کرده تولګۍ وال ئې د پوهنې د وزارت په خوښه د بغرا پروژې ته چې تازه شروع سوې وه ور کړه له دې تله څخه يو ؤ نيم مآل انديشه شاګردان په شخصي مصرف د عالي تحصيلاتو د پاره کابل ته ولاړه چې ما هم صرف د تقليد په سائقه دغه هوس وکې په کابل کې د حبيبيې د ليسې د شمول موقع را کړه سوه او په هغه کال چې به زه د دوولسم صنف څخه راوتم د ادبياتو فاکولته د ښاغلي «حبيبي» تر رياست لاندې جوړه سوه او سمدستي هوري شامل سوم که څه هم د ښوونځي په وخت کې ما هيڅ ادبي ذوق نه درلود او هيڅ خارجي مطالعه مې نه وه کړې چې پدغه نقيصه به هغو شاګردانو چې ادبي مذاق ئې ښه ؤ کېږلم په هر صورت د قسمت ليکنې ته مې سر کښېښود په ۱۳۲۸ کال کې د هغې فاکولتې څخه فارغ سوم او په کندهار کې د ميرويس په ليسه کې د مرستيال په توګه مقرر سوم دوه کاله وروسته و احمدشاه بابا ليسې ته ښوونکي مقرر سوم او د ۱۳۳۱ کال په ثور کې د کابل دارالمعلمين ته تبديل سوم په ۱۳۳۲ کال د پوهنې د وزارت په موافقه د هلمند او ارغنداو د ناوې د انکشاف ولوی رياست ته د تبليغاتو د مديريت په کفالت وربدل سوم صرف نه مياشتې مې هوري کار وکې او د شخصي معاذيرو په نسبت مې له هغه ځايه څخه اجازه وغوښته او کله چې هغو زما عذر معقول وګاڼه اجازه ئې را کړه د ۱۳۳۳ش کال را پدې خوا په شخصي کارو، د کور په سرپرستي او تجارت لګيايم په ۱۳۴۰ کال کې د کندهار د اطاق تجارت مرستيال مقرر سوم چې د هغه کال د بشپړ کېدو سره مې هغه کار هم بشپړ سو .

داوه زما د ژوند مختصر حالات خو په سوانح کې زما په نظر تر سرګذشت شخصيت اهميت لري چې غواړم يو څو کرښې د نفس په معرفي کې هم وليکم: زه يو قانع، بې استقامته، عافيت پسنده، بېروندو کې شرمندو کې، متحمل، او په محدوده ساحه کې

اجتماعی انسان یم، دوستان می
له ځانه خوشال ساتلی دی د تکلف
او درواغو څخه می ډېر بدراځی
او رسمی ژوند را باندی
درنیږی پخوامی د زده کړی
استعداد ښه ؤ اوس چی د ژوند
په کنګړو اخته یم ځان نه را
معلومیږی، د لیك مشق نلرم
او د نوشتې ژبه می زخنه، درنه
او متکلفه ده نظم ویلای سم
خو شعر می کله نه دی کړی
خصوصی ذوق د علم الاجتماع
سره لرم] .
ښاغلی هاتف پرته د پښتو او
پارسی په انګلیسی، عربی او
اردو هم ښه پوهیږی لیك ؤ لوست
دواړه په کولای سی د دوی
مقالې د کندهار په طلوع-
افغان، کندهار مجله او
هلمند په جریده کی خپاره
سوی دی لاندنی اثار او ترجمې
هم په دوی اړه لری .
۱- د حمید ماشوخېل احوال
او اشعار غیر مطبوع کتاب.
۲- ابن سینا بین الدین والفلسفه
د عربی څخه په پارسی د پوهنی
وزارت کتابخانې ته ترجمه
سوی دی .
۳- تنقید شعر العجم د اردو څخه
په پارسی ترجمه سوی دی .
٤- ارس ئې یو کتاب ترکار
لاندی دی چی [د روزنی د
نفسیاتو اساس] نومیږی او د
انګلیسی څخه ئې پښتو ته
را اړوی .
دائې یو منظوم اثر دی:-

په لکو ستورو د لمر ځای نه ډکیږی

د « کیتول » تر کنډو سترګه نهامیږی
له وروستی نظر ئې دغه معلومیږی

په حسرت ګوری ویجاړو ګنډوالو ته
بیا به دلته کیږدی کله ولاړیږی ؟

سل لاڅه چی زر دی ومره یو دی مه مره
په لکو ستورو د لمر ځای نه ډکیږی

په یوه سترګه چی شاه ؤ ګدا وینی
تر هغه سترګه پر ځای عالم جاریږی

په ازل کی ئې د وصل کرښه نسته
پرڅه لمر سپینی شپوږمۍ ته ایساریږی

دا ژېړ لمر نه دی دغره پر هسکه څوکه
محتضر دی وصیت ته تیاریږی

څو آخر غشی ئې نه وی ګزار کړی
تر هغو پوری مېړه نه تسلیمیږی

ملامت نه یم که شعر ګوډ ؤ ړوند سو
با خبره بې ګدره نه ګډیږی

ښاغلی [رشاد]

نواب محسن الملك
یعقوب علی خان بامیزی

یعقوبعلی خان بامیزی «۱» په خزانه عامره (۱۰۴ مخ) صولت افغانی (۲۴۹ مخ) سراج التواریخ (۲۲ مخ) او تاریخ هندوستان (نهم توك ۳۱۷ مخ) کی د احمدشاهی دوری د اشرف الوزراء شاه ولیخان بامیزی ورور بلل شویدی او زما په خیال د درو وروستیو مؤلفانو مأخذ د آزاد بلگرامی خزانه عامره ده چی په ۱۱۷۶ هق کال بشپړه شویده ښاغلی عزیز الدین پوپلزی هم په تیمور شاه درانی (۲۵۰ مخ) او درة الزمان (۲۲۹ مخ) کی د دوی پر بله تللی دی.

مگر په قلمی تاریخ حسین شاهی (د ۱۲۱۳ هق کال تالیف) دولت درانیه (۳۱ مخ) گلستان رحمت (۱۰۴ مخ) حیات حافظ رحمت خان (۷۹ مخ) تاریخ سلطانی ۱۳۷ مخ او AHMAD-SHAH DORRANI په (۱۵۵ مخ) کی د اشرف الوزرا تربور او همقومه بلل شویدی د شاه عالم نامی مؤلف غلام علی خان چی د یعقوبعلی خان معاصر دی د شاه عالم نامی په (۱۷۰ مخ) کی لیکلی دی چی د شاه ولیخان او یعقوبعلی خان ترمنځ د دوستی او قرابت رگی ؤ د اشرف الوزرا او یعقوب علی خان ترمنځ د صرف همقومی نور موئیدات هم سته مثلاً په احمدشاه درانی (۱۵۵ ۲۳۲ مخونو) کی زیاته سویده چی یعقوبعلی خان په هندستان کی له ډیره وخته میشت ؤ او د یوه اعزازی شپږ زری منصبدار حیثیت ئې درلود په حیات حافظ رحمت خان (۸۹ مخ) کی ئې د استوگی ځای (روهیلکنډ) ضبط دی او په تاریخ حسین شاهی کی چی مؤلف ئې د یعقوبعلی خان معاصر او د (روهیلکنډ) د شاوخوا اوسیدونکی دی واضحه شویده چی یعقوبعلیخان له څو پښته څخه په شاهجهان پور کی اوسیدی شاهجهان پور د ډیلی ختیځ لورته یو نیم سل میله لیری د گنگا پر غاړه واقع دی د دولت درانیه (۳۱ مخ) کی کټ مټ د دغو کلماتو ترجمه په اردو ژبه لیکلی ده او په تاریخ سلطانی (۱۳۷ مخ) کی هم کټ مټ دغه ذکر سته یعنی سلطان محمد خان بارکزی هم یعقوبعلیخان د شاهجهان پور اوسیدونکی بللی دی د یعقوب علیخان بامیزی لقب په دولت درانیه (۳۱ مخ) او حسین شاهی کی نواب محسن الملك (۲) او په شاه عالم نامه (۱۷۰ مخ) کی معتمد الدوله ضبط دی د یعقوب علی خان نوم د رومبی بلا لپاره د (۱۱۷۰ هق) کال په واقعاتو کی لیدل کیږی گهنډا سنگه د احمدشاه درانی په (۱۵۵ مخ) کی لیکلی دی.

«۱» په خزانه عامره او د هندوستان په نهم توك کی بهمن زی کښلی دی د تامل وړ ده.

«۲» د «احمدشاه بابا» په ۲۶۰ مخ کی چی محسن الملك او یعقوبعلی خان دوه بیل سړی بلل شویدی د تامل وړ ده.

د (۱۱۷۰ هق) کال د لومړی خور په پای کې چې د لوی احمد شاه بابا فوجونه له لاهوره څخه مخ پر ډېلي ووتل ناسیاله غازی الدین د ډېلي وزیر چې په ځان کې د جنګ رس نه لیدی وار خطا شو او نجیب الدوله چې ئې هم له مرستې څخه ټه وکړله او ئې مجبوراً له احمد شاه بابا سره په سیاسي مفاهمه لاس پوری کړ او د دې غرض له پاره ئې د دوهمې خور په شپږمه ورځ (۲۹ د دسمبر ۱۷۵۶ ع) یعقوب علی خان د ډېلي پاچا دوهم عالمګیر (۱۱۶۷-۱۱۷۳ هق) ته ور ووست پدې باریابی کې یو مشهور فقیر (شاه فنا) هم ورسره مل کړه شوی ؤ د دغو دوو کسانو په خوله لوی احمد شاه بابا ته د دوهم عالمګیر له خوا «۱» دا پیغام ورواستول شو (که ته د ډېلي له راتګه صرف نظر وکړی او بیرته وخپل وطن ته ستون شی ستا د لښکر د مصارفو لپاره به یوه اندازه روپۍ او زوی ته به دی د دوهم عالمګیر پاچا لور درکړله شی «۲» یعقوب علیخان د لوی احمد شاه بابا حضور ته د ډېلي د دربار د وزیر په امر د دوهم عالمګیر جعلي پیغام ورساوه د دوهمې خور په شپږ ویشتمه ورځ (۸ د جنوری ۱۷۵۷ ع) چې لوی احمد شاه بابا پخپله څو میله د (بادلی) شمال ته د (سونی پت) نومی ځای «۳» په شاوخوا کې اړولی ؤ له دغه ځایه څخه ئې د ډېلي د وزیر غازی الدین استاځی یعقوب علیخان او اغارضا «۴» د ډېلي لور ته رخصت کړل او د دوی په لاس ئې دا پیغام ورولیږه: (زه د ډېلي د پاچا دوهم عالمګیر او وزیر غازالدین د لیدلو لپاره شخصاً ډېلي ته د زغلی یم او هلته به د صلحی د شرطونو په باب کې سره وږغیږو) «۵» د (۱۱۷۰ هق) کال د دریمې خور په اوومه (ورځ ۲۸ د جنوری ۱۷۵۷ ع) لوی احمد شاه بابا د ډېلي ښار ته ورننووت هلته د لوی احمد شاه بابا د اوسیدلو په موده کې یعقوب علیخان د (روهیلکهند) د نایب واکمن حافظ رحمت خان پریښی له خوا د سفیر په توګه د لوی احمد شاه بابا حضور ته واستاوه شو د شاه ولیخان په ذریعه نوموړی د لوی احمد شاه بابا په حضور مشرف او د حافظ رحمت خان د اطاعت پیغام او سوغاتونه ئې د پاچا حضور ته وړاندی کړل «۶» تر څو چې لوی احمد شاه بابا په هندوستان کې ؤ یعقوب علیخان د حافظ رحمت خان د سفیر او

«۱» د دهم عالمګیر لوی احمد شاه بابا ته خطونه لیږلی ؤ چې ماد هندو پروره وزیر غازی الدین له لاسه خلاص کړه زه د ده په لاس کې بندی یم (وګوری د احمد شاه درانی (۱۵۰ مخ) او د روهیله پښتانه ۲۹۵ مخ) دلته ئې فقط د خپل وزیر د تیر ایستلو له پاره مجبوراً د دغه پیغام لیږل منلی دی.

«۲» تاریخ عالمګیر ثانی (۳۶ B-A) مخونه.

«۳» سونی پت له ډېلي څخه شل کروه لیری دی.

«۴» اغارضا یو پلاتر یعقوب علیخان د مخه د ډېلي د وزیر له خوا د لوی احمد شاه بابا حضور ته د استاځی په حیث لیږل شوی ؤ دائې دوهم پلاورتګ او رخصتیدل ؤ.

«۵» د احمد شاه درانی ۱۵۹ مخ (د تاریخ عالمګیر ثانی د ۹۲ مخ په حواله).

«۶» حیات حافظ رحمت خان ۸۹ مخ، دولت درانیه ۳۱ مخ حسین شاهی تاریخ.

وکیل په حیث په احمدشاهی کمپ کی حاضر ؤ د (۱۱۷۰ هق) کال درجب په شپاړسمه ورځ (۶ د اپریل ۱۷۵۷ ع) چی لوی احمدشاه بابا له ډیلی څخه مخ پر کندهار لیږدیده څو ورځی پخوائی یعقوبعلیخان حضور ته وروغوښت دده په لاس ئی حافظ رحمت بریځی ته د خپل رضائیت پیغام ورولیږه او (روهیلکهنډ) ته ئی رخصت کړ «۱» د حافظ رحمت خان زوی مستجاب خان پخپل اثر گلستان رحمت کی داهم زیاته کړیده چی لوی احمدشاه بابا حافظ رحمت خان ته داهم لیکلی ؤ چی د جنگباز خان مرسته وکړی «۲» جنگباز خان د (۱۱۷۰ هق) کال د څلرمی خور په ۲۷ ورځ (۱۹ د مارچ ۱۷۵۷ ع) د دروزرو سپرو سره د نواب احمدخان په ملگری او ملانړ د بنگال د نیولو لپاره گمارل شوی ؤ.

د (۱۱۷۳ هق) کال د څلرمی خور په دوهمه یا دریمه ورځ (۲۱ د جنوری ۱۷۶۰ ع) چی لوی احمدشاه بابا دوهم پلا ډیلی له مرهټو څخه ونیو او څو ورځی وروسته ئی د سورج مل چاټ د ځپلو په نیامت د بهرتپور او ډیک اورته لښکر وخوځاوه له ډیلی څخه تر وتلو پخوائی د ډیلی د ښار حکومت او ساتنه یعقوب علیخان ته وسپارله «۳» او دوه زره عسکر ئی ورسره پریښوول «۴» د لوی احمدشاه بابا فوجونه چی په کول (اوسنی علی گړه) او جالیسر کی د جاتانو په ځپلو اخته ؤ په دغه وخت کی (د ۱۱۷۳ هق) کال د میانی په وروستی ورځ = د ۱۷۶۰ د جولائی ۱۴) د مرهټو هغه دروند لښکر چی د پیشوا د زوی بسواس راو او سداشیو بهاو په مشرتوب د لوی احمدشاه بابا مقابلی ته له دکنه را لیږل شوی ؤ له چمبل سیند څخه شل میله شمالی اورته را ورسید سورج مل چاټ او ملهار راو هولکر ئی هم له خپلو فوجونو سره مله شوی ؤ له دغه ځایه څخه د سداشیو بهاو په حکم چی د تولو مرهټه فوجو سپهسالار ؤ یو تکړه فوج د ملهار او هولکر جنکوجی او بلونت گینش مهندال تر مشرتابه لاندی د ډیلی د نیولو لپاره مخ پر ډیلی وخوځید.

ناسیاله غازی الدین او سورج مل چاټ د دې تکړه فوج سره د لارښودونکو په حیث ملگری کړه شوی وو «۵» دا فوج د (۱۱۷۳ هق) کال د لوی اختر د میاشتی پرانمه «۶» پا په نهمه «۷» ورځ ډیلی ته ورسید او په حویلی سعدالله خان کی ئی واړول. د ډیلی احمدشاهی نائب الحکومه نواب محسن الملک یعقوبعلیخان بامیزی سره د دې چی نه ئی جنگی میړونه د دغه مهاجم فوج شلمه برخه کیدله او نه ئی جنگی اسبابو د مرهټو له جنگی اسبابونو سره سیالی کولای شوه خو بیا ئی هم د پښتنی غیرت په حکم مقابله وکړه او تیښته ئی نه منله «۴» مگر څه گټوره نتیجه ورنکړه او د ډیلی ښار ئی تر ډیره وخته

«۱» حیات حافظ رحمت خان (۷۹ مخ).

«۲» گلستان رحمت ۱۰۴-۱۰۵ مخونه.

«۳» دولت درانیه ۳۱ مخ احمد شاه درانی ۲۳۲ مخ.

«۴» احمدشاه بابا ۲۶۰ مخ.

«۵» شاه عالم نامه ۷۱ مخ.

«۶» د احمدشاه درانی ۲۵۴ مخ

«۷» تاریخ هندوستان ۹-۱۰ توک ۳۰۵ مخ د علیگره چاپ.

«۸» دولت درانیه ۳۱ مخ.

بیړۍ د مرهټو له مجرمه څخه ونه
ساتلای شو او د دغو ورځو غرمې
نه (۲۲ د جوزا ی) د دهلۍ ښار د
مرهټو په لاس کښې وت بخپله
یعقوب علیخان په لال کلا کې چې
د دهلۍ د ښار حکومتي کلاوه
کلا بند شو. «۱»

د احمد شاه درانۍ د کتاب «۲»
له مخې ئې لس ورځې اردشاه
عالم نامې «۳» له مخې ئې شل
ورځې کلابندی وګاله او د
اوږی احمد شاه بابا حضور نه ئې
خپل حال وروليږه. «٤»

غلام علی خان د شاه عالم نامې
مؤلف لیکلی دی چې د دغې
کلابندی په موده کې یو ورځ
درې سوه مرهټه سپاهیان د جمنا
د سیند له خوا څخه د کمندونه
په وسیله برج اسد نه وربوته
شول او په لال کلا وړاندې تل د
یعقوب علیخان سپاهیان نوهه درې
سوه نه مرهټه سپاهیان چې د
انټیل راو د بهمشرۍ ورختلې ؤ
تول ووژل او نور مرهټه سپاهیان
چې برج اسد نه ورختلو له بیلې
تر کلا لاندې ولاړ ؤ ونښتیدل
«٥» د جنګ راو او هولکر
فوجونه د خضرۍ دروازې د ماتولو
زیاربوست مګر له کلا څخه د
پښتنو د کولیو د لاسه کامیاب

نه شول بیا ابراهیم ګاردی دوی
نه درې توپونه کښېښول او د ژلیو
په خیر ئې کولی بر لال کلا
واوروله رنګ محل ئې ونړ محل
او د دیوان خاص نه ئې د برزیانو نه
ورسول هره ورځ به ایدې توګه
جنګ تود ؤ. «٦»

د دولت درانیه په ۳۱ مخ کې
لیکلی دی لوی احمد شاه بابا نه
چې د یعقوب علیخان د کلابندی
حال ورمید د هغه د ورو یاروبوست
چې به مرسته ئې فوج ورولیږی
مګر د جمنا طغیانی حالت او د
برسات باران او لاړ نه ور کوله
ځکه ئې نو یعقوب علیخان نه
ولیکل چې که مرهټه به سمه
نوکه د راوتلو لاړ در اکړی شه
به وی ولی چې د دغه وخت د
مصلحت د تقاضا ده چې روغه
وکړی او د دهلۍ کلا مرهټو نه
وسپاری «۷» یعقوب علیخان هم
بدغه شرط روغه وکړه او د جمنا
د سیند له لارې څخه ئې په بیړیو
کې خپل ټول ملګری او جنګی
سامان نو له روغ رمې راو ایستل
او د لوی احمد شاه بابا د کمپ
خوا نه روان شو «۸» او بدې توګه د
دهلۍ لال کلا د (۱۷۳ هـ ق) کال
لوی اختر د میاشتې په نولسمه
ورځ (۲ د اګست ۱۷۶۰ ع)

مرهټو نه ورخوشې شوله «۹» په
کوهرخت کې چې د سدا بشو بهاو
فرجونه د لوی احمد شاه بابا
مقابلې نه د پانی پت په ډاګ
کې د لوی جنګ لپاره پرانه
وو د مرهټو پیشوا (نانا بالاجی
راو) د نربدا د سیند پرغاړه د
یولوی لښکر سره د قوت الظهر
په حیث ورنا پروت ؤ او په پانی پت
کې د مرهټو فوجونو د کلابندی
بده ورځ چې پیشوا واوریده د

«۱» احمد شاه درانی ۲٤٥ مخ.
«۲» احمد شاه درانی ۲٤٥ مخ.
«۳» شاه عالم نامه ۱۷۱ مخ.
«٤» لوی احمد شاه بابا بدغه
وخت کې په انوپ شهر کې د دولې
ؤ او هلته ئې د ۱۷۳ هـ ق د میاشتې
څخه د ۱۷٤ د صفر تر شلمې
پورې د برسات موسم تیر کړ.
«٥» شاه عالم نامه ۱۷۱ مخ، سولت
افغانی ۲٤۹ مخ.
«٦» سولت افغانی ۲٤۹-۲٥۰
مخونه.
«۷» دولت درانیه ۳۱ مخ شاه
عالم نامه ۱۷۲ مخ احمد شاه
درانی ۲٤٥ مخ.
«۸» شاه عالم نامه ۱۷۲ مخ.
«۹» احمد شاه بابا درانی ۲٤٦
مخ سراج التواریخ ۲۲ مخ.

نربدا له سیند څخه مخ پر ډیلی راوخوځید د ۱۱۷٤ هق کال د څلرمی خور په شپږمه ورځ (۱٤ د جنوری ۱۷٦۱) چی په پانی پت کی مرهټو ماتی وکړه او پر ۲۸ زروتنو باندی ئې میندی بوری شولی او لوی احمدشاه بابا چی ترسوبی څو ورځی وروسته ډیلی ته راورسید په دغو وختو کی پیشوا نانا بالاجی راو له خپلو فوجونو سره د ګوالیار په شاوخوا کی اړولی ؤ او د پانی پت له میدان یا ډیلی څخه په تیښته تللی ؤ هلته نور مرهټه سرداران لکه ملهار راو هولکر او د ډیلی مرهټه حاکم پنډت ناروشنکر او نور پررا ټول شوی وو .

څو ورځی پس د مرهټه ؤ یو نماینده چی (باپوجی مهادیو هنیګونی) نومید د پیشوا او لوی احمدشاه بابا ترمنځ د مفاهمی لپاره زیار شروع کړ د احمد شاه بابا له حضورة څخه یعقوب علی خان وګماره شو چی د یوه پاچاهی استاځی په حیث ګوا لیار ته ولاړ شی او د پیشوا سره دروغی نقشه جوړه کاندی .

یعقوبعلیخان ګوالیار ته ولاړ مګر ځکه چی پیشوا پخپله ناروغه پروت ؤ او نورو مرهټه سردارانو له احمدشاه بابا سره دلیدلو جرأت نشو کولای نو دغه روغه وځنډیدله «۱» او یعقوب علیخان دلوی احمدشاه بابا حضور ته راستون شو د (۱۱۷٤ هق) کال د برات په دیرلسمه ورځ (۲۰ د مارچ ۱۷٦۱ ع) چی لوی احمدشاه بابا له ډیلی څخه کندهار ته ستنیدی یعقوبعلیخان ئې وګماره چی د مرهټو د نماینده (باپوچی مهادیو هنیګونی) سره د پاچاهی سفیر په حیث د پیشوا پایتخت پونی ته ولاړ شی او هلته له پیشوا سره دروغی په باب وږغیږی . «۲»

په (۱۱۷۵ هق) کال کی چی لوی احمدشاه بابا شپږمه پلا هندوستان ته ولاړ او په لاهور کی میشت ؤ ترخپل تګ پخوا ئې نجیب الدوله او د ډیلی د دربار نور لوی افسران خپل حضور ته وروغوښتل نواب یعقوبعلیخان هم پدغه ډله کی د (۱۱۷۵ هق) د صفری په میاشت کی له ډیلی څخه لاهور ته ورغی او د لوی احمدشاه بابا په حضور مشرف شو او لوی احمدشاه بابا چی د ډیلی امیران رخصت کړل دی هم ډیلی ته ولاړ او له نجیب الدوله سره ئې کار کاوه په (۱۱۷۸ هق) کال چی د بهرتپور راجا سورجمل جاټ د میوات د بلوڅو څخه څو کلاوی ونیولی او چا څه ورته ونه ویل نو ئې د ډیلی دربار ته لاس پسی را اوږد کړ او له نجیب الدوله یوسفزی څخه ئې (چی له ۱۱۷۳ هق کال راهیسی ئې د ډیلی د پاچهی ټول کارونه اجرا کول) د فوجداری غوښتنه وکړ له نجیب الدوله د مفاهمی لپاره یعقوبعلیخان د ډیلی د دربار د استاځی په حیث ورولیږه او څه سوغاتونه ئې هم د سورجمل لپاره ورکړه چی په هغو کی یو تان چیټ هم ؤ .

د تاریخ هندوستان د نهم ټوک په ۳۱۷ مخ کی لیکلی دی یعقوب علیخان چی له سورجمل سره لومړی ځل ولیدل او د نجیب الدوله سوغاتونه ئې ورته کښیښوول د ده چی سترګی د چیټ پر تان باندی ولګیدی خوښ ئې شو دستی ئې خیاط راوغوښت او د ځان لپاره ئې له هغه چیټه څخه د کالو جوړولو فرمائش ورکړ او پدی خبرو ئې ځان دومره

«۱» احمدشاه درانی ۲٦۱-۱٦۲ مخونه .

«۲» احمدشاه درانی ۲٦۳ مخ

مشغول کړچی یعقوبعلی خان سفیر ته ئې نوره توجه ونه کړه یعقوبعلیخان راولاړ شو او سورجمل ته ئې وویل (ته اوس پدغه فرمائش بوخت ئې زه به بیاستا د فراغت په وخت کی راشم) سورجمل جواب ورکړ (نواب صاحب! که د روغی لپاره راځی خومه راځه) یعقوبعلی خان تردې جواب وروسته ډیلی ته راستون شو ددغه کال پای ته یعنی څه وخت پس چی ډیلی ته نژدی سورجمل جاټ د سید محمد خان بلوڅ له لاسه وواژه شو او لاښ ئې نجیب الدوله ته ښکاره شو یعقوبعلیخان هم حاضر ؤ. د سورجمل جاټ د لاس ناسور او دهغه چیټ لستونی ئې وپیژاند او نجیب الدوله ته ئې د سورجمل د مرګ ډاډور کړ. «۱»

په ۱۱۸۱ هق کال کی چی لوی احمدشاه بابا انمه پلا هندوستان ته ورغی او په اسماعیل آباد کی ئې چی د انبالی جنوبی لور ته شل میله لیری واقع دی واړول نواب یعقوبعلیخان د نجیب الدوله د وکیل په حیث د لوی احمدشاه په حضور مشرف شو. «۲»

تر ۱۱۸۱ هق کال وروسته د نواب محسن الملک معتمد الدوله یعقوبعلیخان بامیزی ذکر کوم ځای نه دی لیدل شوی البته په ۱۲۰۲ هق کال د ډیلی د پاچاشاه عالم مغل (۱۱۷۳-۱۲۲۱ هق) د ړندولو په واقعه کی د یوه یعقوب علیخان ذکر سته چی د نجیب الدوله یوسفزی د لمسی او ضابط خان یوسفزی د زوی غلام قادر روهیله له خوا وژل شوی دی «۳» مګر دا محققه نده چی دغه یعقوب علیخان دی نواب محسن الملک معتمد الدوله یعقوبعلیخان بامیزی وی او هم د رامپور د نواب غلام محمد خان ماینه چی د یعقوبعلیخان لور ښودل شوی ده «٤» معلومه نده چی د دغه نواب محسن الملک یعقوبعلیخان لور وه او که د نواب غلام محمد خان دا کا یعقوبعلیخان لور ده [؟]

«۱» صولت افغانی ۲۵۷ مخ د مخزن التواریخ په حواله تاریخ هندوستان نهم ټوک ۳۷۱ مخ.
«۲» احمدشاه درانی ۳۱۶ مخ.
«۳» تاریخ هندوستان نهم ټوک ۳٤۱ مخ.
«٤» اخبار الضادید دوهم ټوک.

«د دوهم مخ پاته برخه»

اخلاقی فضیلت منځ ته راتلای سی او نه اجتماعی عدالت عرض اندام کولای سی. کله چی د اقتصادی مساوات مزی د ټولغی د افرادو په منځ کی ټینګ سی هلته بیا ژر د انسانی اخلاقو مظاهر ښکاره کېږی او د اجتماعی عدالت فرشته پر جهان خپل ښایسته وزرونه غوړوی، پدې شرط چی بیا هم افکار او عقول د واقعیت بینی په جهان کی سیر وکی او د تصوراتو له آسمانه را کښته سی.

داوه د سعادت په پاره کی زمالنده نظریه.

ا.م. کرزی

KANDAHAR

MONTHLY MAGAZINE

OFFICE:-

PRESS DEPARTMENT

KANDAHAR , AFGHANISTAN

EDITOR A.M 'KARZI'

(JULY) 1962

GOVERNMENTAL PRESS